SHARIAT WEEKLY

شريعت

اوونيزه

په اوونى کې دوه ځله خپرېږى

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

څلورم کال څلور اويايمه ګڼه پرله پسې (۲٦٤) چهارشنبه د ۱٤۲۰هـ ق کال د جمادي الثاني (۲٦) د۱۳۷۸هـ ش کال د تلې دمياشتې(۱٤) د۱۹۹۹ميلادي کال د اکتوبر (٥)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسې !،
همدا (عـدل) ډېر نږدې دی
تقوا(پرهيزګـاري) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

پيام تبريکيه از جانب محترم رئيس شوراى سرپرست عنوانى رئيس جمهور جمهورى مردم چين

از جانب محترم الحاج ملا محمد ربانى رئيس شوراى سرپرست پيام تبريکيه عنوانى رئيس جمهورى جمهورى مردم چين به مناسبت روز ملى آنکشور به شرح ذيل به مرکز آنکشور مخابره گرديده است.

جناب جيانگ زيمين رئيس جمهور جمهورى مردم چين مسرت دارم به نماينده گى از امارت اسلامى افغانستان شوراى سرپرست و مردم افغانستان بهترين تبريکات خود را به مناسبت پنجاهمين سالگرد تأسيس جمهورى مردم چين به جناب شما و از طريق شما به مردم ترقى خواه و صلحدوست چين ابراز ميدارم. ما باور کامل داريم که گسترش مناسبات دوستانه و بى شايبه ميان مردمان اين دو کشور به نفع هر دو کشور و تحکيم صلح و ثبات در منطقه و جهان ميباشد بناْء امارت اسلامى افغانستان علاقمند است تا روابط دوستى عنعنوى ميان دو کشور بيش از پيش انکشاف و گسترش مزيد يابد.

فرصت را مغتنم شمرده به آرزوى صحت و موفقيت شما و ترقى و شگوفايى جمهورى مردم چين و تجديد احترامات فايقه مى پردازيم.

همچنان از جانب محترم الحاج ملا- محمد حسن آخند سرپرست وزارت امور خارجه پيام تبريکيه به همين مناسبت عنوانى وزير امور خارجه جمهورى مردم چين به پيکنگ مرکز آنکشور مخابره گرديده است.

د مخدره موادو د کنترول د عمومى رياست په نامه د عاليقدر امير المؤمنين حکم:

د هيواد ټولو د کوکنارو کروند ګرو ته خبر ورکوو چې د کوکنارو په کرنه کې دې د تېر کال په پرتله دريمه حصه کمه کړي

که څوک له دې حکم څخه سر غړونه وکړي قانوني سزا ورکول کيږي

د اسلامى امارت د مخدره موادو د کنترول د عمومى رياست په نامه په هيواد کې د کوکنارو د کرکيلې د کمښت په اړوند د عاليقدر امير المومنين د رجب المرجب د مياشتې د نولسمې نيټې دوه څلويښتمه ګڼه حکم.

څرنګه چې د اسلامى امارت لخوا په هيواد کې د مخدره موادو د مخنيوى په خاطر ستاسو په توسط په پخوا وختو کې هم يو شمير فعاليتونه تر سره شويدي اوس لکه څرنګه چې د کوکنارو د کرنې وخت بيا را

رسيدلى دى مونږ د هيواد ټول د کوکنارو کروند ګرو ته خبر ورکوو چې د کوکنارو په کرنه کې دې د تير کال په پرتله دريمه حصه کمه کړي او که څوک ددې حکم څخه سرغړونه وکړي قانونى سزا ورکول کيږي. ددغه کمپاين په اعلان او

عملى کولو به د نړيوالو عکس العمل ته وګورو چې آيا هغوى د کوکنارو د کرنې په بدل کې د افغانستان د خلکو سره د اقتصادى ستونزو په حل او د عام المنفعه پروژو په تمويلولو کې مرسته کوى او کنه. که

چيرې نړيوال د عام المنفعه پروژو تمويلول او نورى اقتصادى مرستې د کوکنارو د له منځه وړولو په بدل کې را ستنه کړي نو اسلامى امارت به د کوکنارو د بشپړ مخنيوى لپاره خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړي.

والسلام

د اسلام خادم

امير المومنين ملا محمد عمر «مجاهد»

د پلان وزارت محترم سرپرست د پولى تخنيک د انستيټوت د بيا رغاونى د کار بهير وکوت

د پلان وزارت سرپرست محترم قاري دين محمد حنيف پرون د پولېتخنيکى د انستيټوت د بيا جوړونى او رغاونى د کار بهير وکوت.

د باختر اطلاعاتى آژانس خبر راکوي د کابل پولى تخنيک انستيتوت چې د تنظيمى جنګونو په نتيجه کې تاواني شوى و د افغانستان د اسلامى امارت د اقتصادى او پولنيزې پراختيا په پلان کې شامله پروژه وه او د هغه بيا جوړول د بنا يې ساختمانى دستګاه کور برابرولو اړيانا او يو شمير نورو ساختمانى خصوصى شرکتونو سره تړون شوى و او د پلان وزارت محترم سرپرست پرون په داسې حال کې چې د ٤ مخ

د تيلو او ګاز د پلټنې په هکله:

د کانو او صنايعو وزارت او سى سى سى يونانى شرکت تر منځ يو تړون لاسليك شو

شريعت: افغانستان اسلامى امارت د هيواد د وران او ويجاړ صنعت د بيا رغونې لپاره ته ستر بڼيدونکى هلې ځلې شروع کړې دي تر څو د هيواد د

سمسورتيا او د هيواد والو لپاره د کار زمينه برابرولو پروسه په تيزى سره پر مخ بوزي دى هدف ته د رسيدو لپاره اسلامى امارت د بهرنيو او ٤ مخ

در چوکات رياست صحت عامه ولايت بلخ:

ورکشاپ اورتوپيدى و فيزيوترايى ايجاد گرديد

ورکشاپ ارتوپيدى و فيزيوترايى ديروز طى محفلى در چوکات رياست صحت عامه ولايت بلخ ايجاد گرديد.

آژانس اطلاعاتى باختر خبر داد:

در محفليکه بخاطر افتتاح ورکشاپ متذکره تدوير يافته بود محترم مولوى احمد الله «مطيع» سرپرست وزارت مخابرات در رابطه به ايجاد ص ٤

بخش هاى مردانه و زنانه انستيتوت ملى راديو لوژى فعال و آماده خدمت به هموطنان ميباشد

محترم رئيس انستيتوت ملى راديو لوژى

شريعت: انستيتوت ملى راديولوژى يکى از مراکز مهم تشخيصيه طبى به سطح کشور مى باشد اين مرکز که در سال ۱۳۵۰ هـ ش تأسيس گرديده و از جمله مجهز ترين مراکز راديولوژى در منطقه بود متاسفانه در دوران سياه اداره الحادي مورد تاراج قرار گرفته و تعمد آن نيز صدمات بى شمارى را متحمل گرديد. در رابطه به وضع فعلى اداره مذکور گفت و شنود کوتاهى را با محترم عاصم «صهيب» رئيس اداره مذکور انجام ص ٤

د مرکزي سيلو توليدى فعاليت بيا پيل شوى دى

ددغې تصدى له خوا هره ورځ ۲٥۰۰ پخې ډوډې په ازاده توګه بازار ته وړاندې کيږي

شريعت: ګرانو هيوادوالو او درنو لوستونکو! لکه څرنګه چې تاسې د هيواد د دله بيزو اطلاعاتو د وسايلو له لارې په دې وروستيو ورځو کې خبرتيا تر لاسه کړې ده چې د کابل د مرکزى سيلو د بيا رغونې او فعاليت نه د چمتو کولو کار بيا پيل شوى او په بيړه سره مخ په وړاندې روان دى په همدې ارتباط زمونږ خبريال ددغې عام المنفعه پروژې له ٤ مخ

در مربوطات ولايت سمنگان:

يك تن از قوماندانان مخالفين با تعدادي از افراد مسلح خود به صفوف مجاهدين اردوى اسلامى پيوست

يکتن قوماندان مخالفين با تعدادي از افراد مسلح شان از صفوف مخالفين جدا شده و در مربوطات منطقه سندورك ولايت سمنگان با مجاهدين اردوى اسلامى يکجا گرديد.

اژانس اطلاعاتى باختر خبر داد: قوماندان عبدالرشيد که قبلاً در صفوف مخالفين فعاليت مينمود اخيراً با درك واقعيت هاى موجود از صفوف آنها جدا شده و با تعدادي از افراد مسلح و سلاح دست داشته با مجاهدين اردوى اسلامى در منطقه سندورك ولايت سمنگان يکجا گرديد.

د المپيک د نړيوالى کميټې د پريکړې په هکله د افغان لوبغاړو غبرګون:

د المپيک په نړيواله کميټه کې د افغانستان د المپيک د ملى کميټى د غړيتوب ځنډول د افغانانو پر حقوقو سترګى پټول دى

تجيب الله کارګر د روستا د فوټبال د ټيم ټرينر

په داسې حال کې چې د افغانستان د المپيک د ملى کميټې لخوا ډول ډول فدراسيونونه فعال شوى د نړيوالى کميټې پريکړه يوه ستره بى انصافي او جفا ده

محترم محمد ذکريا د خالد بن وليد د جودو د کلپ استاد

نه پوهيږم چې د المپيک نړيواله کميټه په کومو معيارونو پريکړې کوى دلته خو ورزش ته پوره زمينه مساعده ده

جاويد حامدي

نړيوال زمونږ له بيا رغيدو او پياوړتيا څخه ويره لري ځکه په هره توګه کې زمونږ پر خلاف پريکړې کوى

فيض الدين «للندري»

شريعت: څرنګه چې ګران هيواد وال خبر دي په دې وروستيو ورځو کې د المپيک نړيوالى کميټى د افغانستان د المپيک د ملى کميټې غړيتوب په دغه

ګسه کې ځنډولى دى ددې پريکړې په هکله مونږ له خپلو څو تنو لوبغاړو سره لنډې مرکې کړې او د هغوى نظرونه مو غوښتى چې لنډيز يې دا دى:

د روستا د فوټبال د ټيم ټرينر تجيب اله کارګر په داسې ډول د دا د لسر څخه زياته ورښانه ده چې اسلامى امارت ورزش ته خاصه توجه کړې او د اسلامى شريعت په چوکاټ کې

د افغانستان ټول لوبغاړي که د هيواد په هر ځاى کې دي په خپلو لوبو لګيا دي د هغوى لپاره د پخوا څخه هم زيات سهولتونه او آسانتياوې برابرى شوي له پسرلي ٤ مخ

کار ترميم و تمديد پايپ لاين گاز شبرغان - مزار شريف به سرعت جريان دارد

کار ترميم و تمديد پايپلين گاز شبرغان - مزار شريف که اخيراً از سوي وزارت معادن و صنايع آغاز گرديده است به شدت جريان دارد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد: به ادامه کار باز سازي فابريکه ها و ص ٤

د روسيې او چيچن د پوځونو تر مينځ سختې جګړې روانې دي

د روسيې او چيچن د پوځونو تر منځ د سختو جګړو رپوټونه را رسيدلي دي چې د تيرې لسيزې له ټيسابى نه تر اوسه پورې بيسارى دي.

د روسيې د ايتار تاس د خبرى آژانس د خبر له مخې د روسيې پوځي ځواکونو د چيچن جمهوريت لس نظامي سيمې تر خپل کنټرول لاندې راوستې دي. ٤ مخ

د دريم او څلورمو مکروريانونو تر منځ د غزيدلي سړک د ګلدان جوړونې کار په بيړه روان دى

شريعت: درنو لوستونکو! په دې وروستيو ورځو کې د کابل ښاروالى د نهمى ناحيې اړوند د مکروريانونو په سيمه کې د يوه سړک د ګلدان جوړونى. ٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

«چې څه کرې! هغه به ريبې!»

د تاجکستان مسلمان ولس له افغان مسلمان ولس سره د يوى عقيدى او ايمان، د يوه شريعت او ګډ تاريخ، د يورنګه فرهنګ او د رواياتو، د يوى سيمې او ګاونډيتوب په مزيو تړلى دى! د يو بل په ستونزو او خپګان خپه او زړه بدى او په خپرازى بى خپرازوى، له پيړيو راهيسې د يوه مذهب او فرهنګ په درلودلو سره يې د وروڼو په څير ژوند سره کړى دى ! په دغو پرګنو باندى د شوروى د تيرى په وختونو کې د تاجکستان او د آمو په آخوا نورو ديندارو او زمونږ وروڼو ولسونو د کمونيزم د وينى حښونکو ځواکونو له خوا ډير بد ظلمونه، ستونزى او ناخوالى وليدلى او وګاللى!

په هغو وختونو کې زمونږ مسلمان او ننګيالى ولس که ۲ مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»

مرستیال : ملیار «کاکړ»

دیوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کی (۳) کلداری

پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱

جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

څه هم د یوه بل استعماری ځواک (انګلیس سره لاس او ګریوان او د تیری مخی ته یی ولاړ و مګر د آمو اخوا ورونو په بده ورځ په ملی کچ ډیر غمجن او خوا بدی و؛

بیا چی کله زمونږ په خپلواک او ننګیالی هیواد سرخوړلی شوروی تیری وکړ نو سره استعمار تر تسلط لاندی په مسلمانانو به هغومره خواشینی تیری شوی وی لکه د دوی د ځپلو په وخت چی زمونږ د دیندار ملت په وینو او خوا خوږو کړیو او پرګنو تیری شوی وی ؛

خو له بده مرغه ځوان نسل یی چی د کمونیزم په پلیت مکتب کی روزل شوی و په افغان مسلمان ولس د تیری او ځپلو په وخت کی په پوځی او سیاسی ډګرونو کی درنه ونډه لرله او د کمونیزم بریځو به د افغانانو جهادی ځپونکو ګوذارونو ته دغه ځوانان ورمخی ته کړل، د مرګ ژوبلی او اسارتونو مړلا ماتوونکی طوفانونه به یی د مسلمانانو په دغه بې لاری کړی او ګمراه کړی ذوات ور حواله کړل او له منځه به یی وړل؛

ددغه بی لاری کړی ذوذات ډیری کرغیړنی څیری او د کمونیزم پاتی شونی لا اوس هم له بده مرغه ددغو مسلمانانو پرګنو په سرنوشت مسلط دی او هماغسی مسلمانان ځوروی، مسلمانی ته بی نه پریږدی او د کمونیزم له نوم اخستلو پرته کمونستی نظام پکښی چلوی انا لله... ؛

له هغو کرغیړنو کمونستی څیرونه یوه د تاجکستان د ولس مشر امام علی رحمانوف څیره ده چی زمونږ د تاجکانو مظلومو ورونو په سرنوشت مسلط دی او هلته د شوروی په ځای د روس غوښتنی او مرخی په مخ بیا یی، دی د روس او نورو اسلام دښمنو حکومتونو چوپړی دی او د هغو په امر په افغانستان کی بر الا لاسوهنی کوی، د نظار د تروریستی ډلی روزنه او پالنه، زمونږ په هیواد کی د جګړی د دوام دنده په غاړه وراچول شوی ده او په ډیر اخلاص سره یی په مخ بیا یی افغان مسلمان ولس او ټوله نړی دا هر څه د سر په سترګو وینی او د افغانستان اسلامی امارت یی په څیرکتیا سره څاری چی دوشنبه د مخالفینو یوه ډاډمنه اډه ده، هلته د دوی لپاره هر څه تیار دی، د کولاب هوایی ډګر د دوی په واک کی دی ، درنی او سپکی وسلی او مهمات، لوژستیکی توکی اود جګړی پر مخ بیولو ټولی اړتیا وی چی د افغانستان دښمنو حکومتونو له خوا د دوشنبی منفور رژیم ته سپارل کیږی هغه یی د هوا او زمکی له لاری د نظار ډلی ته بی له ځنډه ور رسوی، له دی خوا نه د مخدرو توکو بارونه چلوی او د ډالرو بازار یی تود کړی دی؛

د افغانستان اسلامی امارت د ګاونډیتوب د ښو اړیکو د پهل کیدو او ددغسی لاس وهنو د بندیدلو په تمه د نورو ګاونډیو هیوادونو په څیر د دوشنبی واکمنو ته هم تمه لرله خو دا تمه نه برازي بریالی نه شوه بلکی تر بدو بد تره شوه؛ نو ځکه د امارت اسلامي پوځی ځواکونه د زمکنیو لارو بندولو په تکل سیمی ته ور وخوځیدل او هلته یی کار پیل کړ؛

له دغه اقدام سره سم د شورای نظار ډلی ملاتړ و حکومتونو او رحمانوف په ډیره وارخطایی سره بیړنیزی غونډی او هڅی پیل کړی، لاس وهنی یی لا پسی زیاتی او په نړیوالو غونډو کی یی خپلی لاس وهنی بر الا کړی نو ځکه د امارت اسلامی او د بهرنیو چارو وز ارت د دشنبی په واکمنو غږ وکړ چی د ګاونډیانو تر منځ د غسی د دښمنی کړه وړه او تخریبی لاس وهنی ډیری بدی پایلی لری، د دوشنبی رژیم چی څه کړی هغه به ریبی ؛

د افغانستان اسلامی امارت دا حق لری چی د د نوک ځواب په سوک سره ووایيء، د افغانستان اسلامی امارت خپل دغه حق چی له تیری کوونکی سره بالمثل عمل وکړی محفوظ ګڼی او د دوشنبی له رژیم نه په کلکه غواړی چی ددغسی له دښمنی نه ډکی لاس وهنی په ځای د ګاونډی توب د ښو اړیکو په لټه کی شی.

ایدز بلای عصر حاضر

۵

ترتیب کننده : وحید احمد «هارون»

انتانات فرصت طلب یا Opportunistic :

طوریکه تذکر داده شد مرض ایدز عمدتاً سیستم معافیتي وجود انسان را بصورت قابل ملاحظه ضعیف ساخته، و راه را براي دخول انواع مکروبها و امراض دیگر به وجود هموار میسازد. در محیط انسان و در خود وجو انسان مکروبها وجود دارند که بنام انتانات فرصت طلب یاد میشوند یعني زماني که دیدند مصابین مرض ایدز سیستم معافیتي خود را از دست داده اند، به سرعت در وجود شخص مبتلا اعضاي مختلفه را مورد حمله قرار داده و باعث امراض وخیم میشوند. در حقیقت همین انتانات فرصت طلب هستند که بالاخره باعث مرگ مصابین مرض ایدز میشوند نه خود مرض ایدز. البته این انتانات در مقابل Antibiotic ها هم از خود مقاومت نشان میدهند. یکمقدار امراض و تشوشات که در اثر این مکروبها یا انتانات بوجود میایند عبارتند از :

۱- سینه بغل نوع Pneumocystis-Carinii-pneumonia :

از جمله شایعترین انتانات فرصت طلب در نزد مریضان ایدز است که در اضافه تر از ۵۰٪ مریضان مصاب ایدز واقعات آن مشاهده شده است و هم علت بسیار معمول مرگ و میر در نزد این مریضان به شمار میرود این مریضان تب بلند و سرفه خشك و دوامدار دارند از نفس تنگي و احساس فشار بالاي صدر شکایت میثمایند. براي تداوي این نوع سینه بغل از Cotrimoxazole و Pentamidine استفاده میشود داکتران کوشش مینمایند از ادویه جاتي استفاده نمایند تا از این نوع سینه بغل جلوگیري نماید.

۲- سرطان نوع Kaposis sarcoma :

مانند سینه بغل بوده و این نوع سرطان از جمله معمولترین بیماریها در نزد مصابین ایدز است. این مرض زیاد تر در اشخاص مسن و افرادیکه زیادتر از ادویه تضعیف کننده ثیم معافیتي Immuno suppressor در زمان پیوند اعضاء استفاده میکنند دیده میشود. اما از سال ۱۹۸۱ به این طرف واقعات آن در نزد همجنس گرایان زیاد گردیده است، که دلیل آن تا هنوز دریافت نشده است . زماني متوجه این مرض میشوند که زخم هاي کوچك ارغواني رنگ در روي جلد رخسار و بعضاً در داخل دهن بوجود آیند این زخم ها میتواند به سرعت به اعضاي داخلي انتشار کرده و از جمله میتواند ریه ها «ششها» را مصاب سازند، که به زودي باعث مرگ میشود .

براي تداوي آن از ادویه جات ضد سرطاني استفاده شده ، علاوتاً از اشعه نیز کار گرفته میشود. اما مشکل عمده در اینجاست که ادویه ضد سرطان سیستم دفاعي وجود را زیادتر ضعیف ساخته و مریض را آسیب پذیر تر میسازد.

۳- تورم غدوات لمفاوي :

یکي از علایم ابتدایي ظهور مرض ایدز عبارت از تورم غدوات لمفاوي بصورت منتشر است . این انساج بدن وظیفه دارند به مقابل داخل شدن اجسام اجنبي از خود عکس العمل نشان بدهند. این تورم زیاد تر در نواحي گردن، زیر بغل و کشاله، ران رخ میدهد . قابل یاد آوري است که یکمقدار امراض انتاني و سرطانها نیز میتوانند باعث تورم غدوات لمفاوي شوند. **که باید در وقت تشخیص مرض ایدز مد نظر باشد. از جمله امراض سرطاني که تورم غدوات لمفاوي را بوجود میآورند، یکي هم مرض Hodgkin's است که میتواند توأم با ایدز و یا بدون آن بوجود آید.**

٤- ویروسهاي دیگر :

انواع مختلف ویروسها میتوانند در نزد مصابین ایدز امراض متعددي را بوجود آورند. بوجود آمدن تب خالي اضافه تر از یك ماه در نزد افرادي که در معرض تماس مریضان ایدز بوده اند. میتواند علامه خوب تشخیصیه باشد بر علاوه Cytomegalovirus هم نزد این مریضان دیده شده که میتواند باعث متضرر شدن غدوات فوق الکلیوي، حجرات شبکه چشم **و حجرات سیستم هضمي شوند. تا حال ادویه موثر به مقابل این ویروسها در یافت نشده است .**

۵- انتانات باکتریایي :

از جمله امراض باکتریایي که نزد مریضان ایدز وقوعات زیاد دارد توبرکلوز است، که در بعضي حالات به تشخیص ایدز کمك میکند. مصابین ایدز مبتلا به توبرکلوز معمولاً با ادویه ضد توبرکلوز نتیجه قناعت بخش میدهند. Salmonella نوع دیگري باکتري **است که باعث مرض محرقه شده البته بعضاً به مقابل ادویه ضد محرقه از خود مقاومت نشان میدهد .**

ماین بلای بزرگ در افغانستان

داکتر شاه ولي

ماین ها سلاح تروریستي و دشمن همیشه بیدار درسنگر است که تاپوشیده شدن تارو پود پیکرش چشم براه کشتن انسان ها است .

ماین سازان وماین گذاران برین گمان اند که ماین ها وسایل نظامي کامیاب بخاطر جلوگیري ازپیشرفت دشمن بوده ویك اسلحه بسیارارزان بالقوه و با صبر است که تنها حمله آوران وجنگنده را ازبین میبرد نه افراد ملکي را.

راپورهاي دقیق که ازشفاخانه بدست مي آید نشان میدهد که نود درصد قربانیان ماین ها همه افراد ملکي بوده که ٦۳ فیصد آنها را کودکان تشکیل میدهد درطول ۵۲ سال گذشته ۲۰۰ ملیون حلقه ماین توسط ۵٦ کشورماین ساز ساخته شده است که ۸۰ ملیون آن در زیر پاي انسانهافرش گردیده و ۱۲۰ ملیون ن در دیپوها موجود است تا درجنگهاي آینده فرش شده ومشکلات انسانهاي روي زمین را زیاد تر سازند.

۳۵۰ نوع ماین درجهان تاکنون شناسایي گردیده که کوچکترین آن هم باعث کشتن یك کودك شده میتواند در٦۸کشورجهان ماین فرش است کشور هایي که زیادترتوسط ماین ها خساره مندگردیده اند عبارت است از : افغانستان ،بوسنیا ،کمبودیا ،نامیبیا ،کروشیا ،صومالیا ،اریتیره ،نکاراگوا ،عراق «کرد ستان » موزمبیق وسودان میباشند.

افغانستان باداشتن ۸ ملیون ماین که د ، فیصد ماینهاي روي زمین مي شود درسرخط کشورهاي ماین زده جا داده شده است .شمارقربانیان ماینها درافغانستان زیادترازیك لك نفر بوده و ۷۰۰ کیلومتر مربع خاك افغانستان توسط ماینها همین اکنون ملوث است .٥٤نوع ماینها درخاك افغانستان تا اکنون شناسایي گردیده که :

۳۱نوع آ ن ساخت روس ، ۱۰ نوع آن ساخت بلجیم، ۲نوع آن ساخت چین، ٤نوع آن ساخت چکوسلواکیا ، ٤ نوع آن ساخت ایتالیا، ۲ نوع آن ساخت پاکستان، ۱ نوع آن ساخت سنگاپور، ۲نوع آن ساخت انگلستان ، ۲نوع آن ساخت یوگوسلاویا، ۱نوع آن ساخت زیمبابوي، ٤ نوع آن ساخت ایران میباشد .

پاکسازي ماینهاي موجود درجهان به سي وسه ملیارد دالرامریکایي هزینه نیازدارد.

افغانستان باداشتن تعداد ده فیصد ماینهاي همه کره زمین درخاکش جهت پاکسازي ماینها به صدها ملیون دالر امریکایي بودجه ضرورت دارد آن هم به شرطیکه سلسله ماین گذاري همین اکنون بند گردد .

۷۰۰ملیون دالر براي کمك به معیوبین ماین جهان ضرورت است تا بتوانند از نگاه جسمي واقتصادي دوباره بر پاباستند.

موجودیت ماینها یك دیوار بزرگي در راه بازسازي کشوربوده ویك مشکل خطرناکي بخاطر بازگشت آواره گان وبرگشت خوشحالي وآرامي کشور شناخته شده وبلاي بزرگ فاجعه آفرین است که نسل هاي آینده رادربرتو خطرخود گرفته است .

ملت افغانستان زجردیده ترین ملت هاي دنیا نسبت موجودیت ماینها میباشد ساختن ماینها خریدوفروش، نگهداري وفرش آنها بنابرفتوي علماي اسلام افغانستان، یك عمل غیراسلامي بوده وازنگاه قانون مدني استعمال مین ها درمناطق مسکوني سرك ها ،کانال هاي آبیاري ،زمین هاي زراعتي وچراگاه ها منع میباشد .ملت افغانستان باتعقیب نقش قدم علماي خویش ازکشورهاي ماین سازصریحاً مي خواهندکه:دیگر مشکل انسانهاي روي زمین رابا ساختن ماینهاي جدید شان افزون ترنسازند. خسارات وارده بر افغانستان نسبت موجودیت ماینها بنابریك سروي جدید مبلغ ٦۵۰ ملیون دالر امریکایي میباشد. تنها دربخش هاي زراعتي خسارات مستقیم وارده به این کشور به ۱۱۵ ملیون دالر میرسد .

مواشي ایکه دراثر انفجارماینها درافغانستان ازبین رفته اند قیمت مجموعي آن ٦۰ملیون دالر امریکاي میباشد وسایط نقلیه مختلف النوع که درافغانستان توسط ماینها ازبین رفته است قیمت مجموعي آن به یکصد وده ملیون دالر میرسد .

نود ۹۰ فیصد مناطق متأثره ماینها را خانه هاي مسکوني سرکها ، زمین هاي زراعتي چراگاه ها ومنابع آبي تشکیل میدهد ،موجودیت ماینها درمناطق مذکوریك مانع بزرگ درجهت رشد اقتصاد ملي کشور است .

«درسال ۱۹۹٦ با وجود مصارف گزاف وقرباني هاي بیشمار درسرتاسر جهان فقط یکصد هزار حلقه ماین کشف وخنثي گردید باکمال تأسف باید گفت که درهمان سال ازدو تا پنج ملیون ماین جدید جابجاگردیده است به اساس احصائیه سازمان جهاني صلیب سرخ بادرنظرداشت توان فعلي ماین پاکي مصرف پاکسازي ماینهاي موجود درجهان یکهزار ویکصد سال را در بر خواهد گرفت .

ملت افغانستان ازکشورهایي که بطور ظالمانه بخاطرکشتن فرزندان افغانستان وبخاطر درهم کوبیده تر ساختن اقتصاد درهم ریخته افغانستان ماین میفرستند تقاضا دارد که دیگر با ارسال ماین هاي جدید شان رنج **این ملت را زیاد تر نساخته وبیشترازین داغ برپیکر این ملت جنگ زده نگذارند .**

ملت مسلمان افغانستان باآواز بلند فرش ماین رایك عمل غیر اسلامي دانسته وازکسانیکه دراین کار غیراسلامي مبادرت مي ورزند میخواهند که دیگر از ین عمل غیر اسلامي خویش منع شوند بحال ملت مظلوم افغانستان رحم کنند افغانستان باداشتن یك لك و ده هزار معیوب وکشته ماین بلند ترین تعداد قربانیان ماین جهان را داراست آیاشما بیرحمان در هر کوچه وگذر درهر شهر و ده درهر خیابان وسربازار شاهد بینوایي محتاجي دربدري و بیچارگي- معیوبین ماین نیستید ؟

آیا نمي بینید که اولاد هاي معیوبین همچون یتیمان دست به گدایي زده اند ؟ آیا اولاد هاي این معیوبین چه سرنوشت روشني **از دست ماین هاي شما در آینده خواهند داشت ؟**

آیا شما خود را از افغانستان میدانید ؟ اگر بلي ! دیگر به درد این ملت افزوني نه بخشید دیگر ماین فرش نکنید دیگر تخم فلاکت را به نسل هاي جوان آینده کشور نکارید، با این عمل تان گداگر هاي بیشتري به جامعه تقدیم نکنید دیگر آبروي یك مسلمان را که همانا با گداگري مي ریزد نریزانید.

این ملت ستم دیده از دست ماین از کشور هاي کمك کننده به مؤسسات ماین پاکي و معیوبین تقاضا دارد که در راه باز سازي این کشور سهم فعال تر بگیرید. ملت افغانستان تمام کار هاي ماین پاکي را بدیده قدر نگریسته و هر فرد ماین پاك و کسانیرا که در جهت پاکسازي کشور از مصیبت ماین قدم بر میدارند قدرداني مینمایند.

مردم افغانستان و بخصوص کسانیکه ملکیت هاي شان در زیر تهدید ماین است به آرزوي آن اند که هر چه عاجلتر مشکل ایشان حل گردیده و زمینه رشد اقتصاد کشور با ماین پاکي مساعد گردیده و زمینه قرباني شدن افراد بیشتر این سرزمین توسط ماین ها مساعد نگردد.

به امید نجات افغانستان از مصیبت ماین

د افغانستان په اروند د سیاسی، پوځي، اقتصادی او فرهنگی پیښو کرونولوژی (۳)

د ۱٤۱۹ هـق کال د جـمادی الاخر له نهمی او د ۱۳۷۷ هـش کال د میزان د میاشتی له اوومی نه تر ۱٤۲۰ هـق کال د جمادی الاخر تر ۱۸ می او د ۱۳۷۸ هـش کال د میزان تر شپږمی نیتی پوری

د ۱٤۱۹ هـق کال د شعبان المعظم په ۹ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د قوس په ۷ مه د کابل د انترکانتیننتال هوټل په تالار کی د بوشمیر وزارتونو تربیتی سیمینار جوړ شو.

د ۱٤۱۹ هـق کال د شعبان المعظم په ۱٤ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د قوس په ۱۲ مه د ملگرو ملتونو سرمنشی کوفی عنان په خپل ریوټ کی د امنیت شورا ته ولیکل چی د طالبانو مخالفین نور د یوی موثری قوی په توگه وجود نه لری.

د ۱٤۱۹ هـق کال د شعبان المعظم په ۱۵ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د قوس په ۱۳ مه د کندز د بنگی په سیمه کی په ایران کی جوړ شوی پرسونل ضد ٤۰۰ ماینونه او **۳۰ د وسایطو ضد ماینونه کشف او ونیول شو ل.**

د ۱٤۱۹ هـق کال د شعبان المعظم په ۱٦ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د قوس په ۱٤ مه د روژی مبارکی میاشتی د رارسیدلو له امله د عالیقدر امیر المومنین د فرمان له **مخی د شورای نظار ۱۱۸ بندیان خوشی شول .**

د ۱٤۱۹ هـق کال د شعبان المعظم په ۱۸ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د قوس په ۱٦ مه د جاپان په مرکز توکیو کی د افغانستان سره د مرستی له پاره د ملگرو **ملتونو د مرستندویه موسسو غونډه جوړه شوه .**

د ۱٤۱۹ هـق کال د شعبان المعظم په ۲٤ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د قوس په ۲۲ مه د مسعود افرادو له شمالی څخه کابل په توغندیو وویشته او د کابل ښار په کلوله پشته کی یی ۲۱ تنه شهیدان او ۲۷ تنه ټپیان کړل .

د ۱٤۱۹ هـق کال د شعبان المعظم په ۲۵ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د قوس په ۲۳ مه په کندهار کی د پوهانو، استادانو، لیکوالو او شاعرانو په گډون د ادبیاتو د تاریخ په نامه دوه ورځنی سیمینار پای ته ورسید.

د ۱٤۱۹ هـق کال د شعبان المعظم په ۲۵ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د قوس په ۲۳ مه ستري محکمی د عالیقدر امیر المومنین له هدایت سره سم د افغانستان له ټولو مسلمانانو نه وغوښتل چی د ۱٤۱۹ هـ ق کال د شعبان المعظم په ۲٦ مه د وچکالی په خاطر د استسقا لمونځونه وکړی او د لوی خدای «ج» نه د رحمت باران وغواړی .

د ۱٤۱۹ هـق کال د شعبان المعظم په ۲٦ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د قوس په ۲٤ مه د عالیقدر امیر المومنین د فرمان له مخی د روژی مبارکی میاشتی د رارسیدلو له امله د څرخی پله له زندان نه ۲۵ تنه جنگی بندیان خوشی شول .

د ۱٤۱۹ هـق کال د شعبان المعظم په ۲۸ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د قوس په ۲٦ مه د بهرنیو چارو د وزارت احتجاجیه لیک په عراق باندی د امریکا او انگلستان د هوایی حملی له امله صادر شو .

د ۱٤۱۹ هـق کال د شعبان المعظم په ۲۸ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د قوس په ۲٦ مه د ملگرو ملتونو استازی اخضر براهیمی په ایران کی د افغانستان د حالاتو په باب خبری وکړی .

د ۱٤۱۹ هـق کال د شعبان المعظم په ۲۹ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د قوس په ۲۷ مه د کابل په غازی استدیوم کی یو تن قاتل د محکمی له حکم وروسته قصاص شو . همدارنگه یوه سڅخه چی د زنا په **ناوړه عمل نیول شوی وه سل دری ووهل شوه .**

د ۱٤۱۹ هـق کال درمضان المبارک په ۱ د ۱۳۷۷ هـش کال د قوس په ۲۸ مه محترم مولوی وکیل احمد متوکل د یو پلاوی په مشری په اسلام آباد کی د ملگرو ملتونو د استازی اخضر براهیمی سره د افغانستان په سیاسی او نظامی حالاتو خبری وکړی .

د ۱٤۱۹ هـق کال درمضان المبارک په ۳ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د قوس په ۳۰ مه اسلامی امارت له ملگرو ملتونو نه وغوښتل چی په روسیه باندی فشار واچوی چی د اسلامي امارت مخالفینو ته پیسی چاپ نه کړی .

د ۱٤۱۹ هـق کال درمضان المبارک په ٤ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د جدی په لومړی نیټه په بدخشان کی د مولوی خردمند د وژلو له امله چی د نظار د شورا د غړو له خوا وژل شوی و د بدخشان خلکو په مظاهرو لاس پوری کړ او د مسعود د ورتللو غوښتنه یی کوله خو مسعود له ویری ورتللی نه شو .

د ۱٤۱۹ هـق کال درمضان المبارک په ۹ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د جدی په ٦ مه د سعودی عربستان واکمنو دا ادعا رد کړه چی گنی د عربستان د شاهی کورنی یو تن غړی په افغانستان کی د عربی **ناراضی اسامه بن لادن په وژلو انعام ایښی دی.**

د ۱٤۱۹ هـق کال درمضان المبارک په ۹ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د جدی په ٦ مــــه د هلمند په ولایت کی د **محکمی له حکم وروسته په یو تن قاتل باندی د قصاص حکم او د هرات په ولایت کی په دوو تنو غلو باندی شرعی حد عملی شو .**

د ۱٤۱۹ هـق کال درمضان المبارک په ۹ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د جدی په ٦ مه د اسلامي امارت له خوا په افغانستان باندي د پخواني شوروي اتحاد مستقیم او بی شرمانه یرغل وغندل شو .

د ۱٤۱۹ هـق کال درمضان المبارک په ۱۰ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د جدی په ۷ مه د هیواد ورځپانی خبر ورکړ چی مسعود په تاجکستان کی له امریکائیانو څخه د اسامه بن لادن په وژلو او یا نیولو پنځوس میلیونه ډالره تر لاسه کړی دی.

د ۱٤۱۹ هـق کال درمضان المبارک په ۱٤ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د جدی په ۱۱ مه مومنو هیوادوالو د هیواد په ټولو ځایونو کی د عالیقدر امیر المومنین د فرمان سره سم د استسقا لمونځونه وکړل او د لوی خدای «ج» له دربار نه یی د رحمت باران وغوښته .

د ۱٤۱۹ هـ ق کال درمضان المبارک په ۱۵ مه د ۱۳۷۷ هـ ش کال د جدی په ۱۲ مه بیا هم زموږ مسلمانو هیوادوالو د استسقا لمونځونه وکړل او د لوی خدای «ج» نه یی د رحمت باران وغوښته چي د مسلمانانو سوال خداي «ج» قبول کړ او باران واورید .

د ۱٤۱۹ هـق کال درمضان المبارک په ۱۵ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د جدی په ۱۲ مه د پاکستان د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال شمشاد احمد په تهران کی د ایران د **مقاماتو سره د افغانستان دحالاتو په خبری وکړی .**

د ۱٤۱۹ هـق کال درمضان المبارک په ۱۸ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د جدی په ۱۵ مه په پیښور کی د حضرت صبغت الله مجددی او پیر سید احمد گیلانی په مشری په **اصطلاح د ســولی او ملی یووالی شورا جوړه شوه .**

د ۱٤۱۹ هـق کال درمضان المبارک په ۲۳ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د جدی په ۲۰ مه د عالیقدر امیر المومنین له خوا یو فرمان صادر شو چی په فرمان کی ویل شوی و **چی د ملکی او پوځی محکمو کار دی بیل شي.**

د ۱٤۱۹ هـق کال درمضان المبارک په ۲۸ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د جدی په ۲۵ مه د کابل په غازی اشدیوم کی په شپږو تنو شوکمارو ، یو تن غله او یو تن لوتی باندی شرعی حد جاری شو .

د ۱٤۱۹ هـ ق کال درمضان المبارک په ۲۹ مه د ۱۳۷۷ هـ ش کال د جدی په ۲٦ مه د عالیقدر امیر المومنین د فرمان له مخی د نیکمرغه کوچنی اختر د رارسیدلو له امله د مخالفینو او جنایی جرمونو ۲۲۱ تنه بندیان خوشی شول .

د ۱٤۱۹ هـق کال د شوال المکرم په ۳ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د جدی په ۳۰ مه عالیقدر امیر المومنین د سرپرستی شورا رئیس محترم الحاج ملا محمد ربانی په کندهار کی د خپل کار په دفتر کی د کښتنی له پاره وسانه او د سرپرستی شورا محترم رئیس **عربستان ته د خپل سفر په باب معلومات ورکړل.**

د ۱٤۱۹ هـق کال د شوال المکرم په ٤ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د دلوی په لومړی نیټه د ملگرو ملتونو استازی اخضر براهیمی د ملگرو ملتونو د امنیت شورا ته د خپلو سیاسی هلو ځلو ریوټ د افغانستان په اړوند وړاندی کړ .

د ۱٤۱۹ هـق کال د شوال المکرم په ۸ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د دلوی په ۵ مه د ملگرو ملتونو استازی رابرټ کول وویل چی ایران افغانی مهاجرین په زوره له ایران څخه باسی.

د ۱٤۱۹ هـ ق کـال د شـوال المکرم په ۱۵ مـه د ۱۳۷۷ هـ ش کال د دلوی په ۱۲ مه د چین اولسی جمهوریت یو پلاوی په کابل کی د بهرنیو چارو د وزارت له مرستیال محترم مولوی عبدالرحمن زاهد سره وکتل او د دواړو خواوو د علاقی وړ مسألو په باره کی یی خبری سره وکړی .

د ۱٤۱۹ هـ ق کـال د شـوال المکرم په ۱۵ مـه د ۱۳۷۷ هـ ش کال د دلوی په ۱۲ مه مسعود روسیی ته په پټه سفر وکړ او د روسیی د مشر یلتسین سره یی پټی خبری وکړی .

پاتي لري

سفر نامه

از کـــابل تا تاشکـــند

دیپلماسی فعال امارت اسلامی افغانستان

در اجلاس گروه ٦+٢ منعقده تاشکند

(۱۲)

احمد ضیأ "شریفی"

محترم متقي چنین گفت : در بین ما و شما اسرا موجود میباشد که آنها فرزندان این کشور هستند و اگر با اسراي شما در بندی خانه ما برخورد نامناسب میشود می توانید براي ما بگوئید و خواست ما این است که با اسراي ما که نزد شماست توجه صورت گیرد و به مسعود این پیام را برسانید . در آنجا کار هاي شاقه توسط اسرا صورت میگیرد در قسمت خوب شدن غذاي آنها توجه شود و زمینه عبادت آنها مساعد گردد و همچنان مقدار اعاشه، که برای اسرا ، از طرف شما تعین شده مسؤلین زندان آنرا بطور مکمل به اسراء نمیدهند و به نفع خود از آن استفاده می نمایند . طالبان که قبلاً آنجا بودند و بعداً رها شده اند همین شکایت را دارند.

داکتر عبدالله با تایید حرف متقی صاحب گفت: باید روش خوب و نیك با اسرا داشته باشیم.

متقي صاحب در رابطه به خطوط اول گفت : به نظامي ها توصیه شود خطوط ما همه در بین قریه ها است قبلاً خط در بنگي بود که مردم مسکوني آنجا را تخلیه نموده بودند و فعلاً خط اول پیش آمده ، در خان آباد هم همین طور؛ و همچنان به طرف گلدره و سرك کهنه، بطور خلص در اطراف تمام کمر بندها مردم ملکي سکونت دارند و مردم نمي توانند خانه به دوش بگردند ما خواهش مي کنیم بدون از روز هاي جنگ از فیر سلاح هاي ثقیله بطور منفرد و خود سر خود داري گردد و ما هم در این قسمت کوشش کرده ایم و مي کنیم.

داکتر عبدالله گفت : من حرف شما را تائید مي نمایم؛ ولي چطور مي توانیم از این عمل در خطوط اول جلوگیري نمایم؟ باید ارتباط میان مسؤلین دو خط باشد.

متقي صاحب گفت : در این مورد موافق هستیم. و ادامه داد : موضوع دیگر کشت ماین ضد پرسونل است که از طرف شما زیاد استعمال میگردد که این هم به ضرر مردم ملکي است. ما نمي گوییم که در مقابل ما از ماین استفاده نشود ولي کار درست نیست که شما زمین هاي زراعتي و مناطق مسکوني را ماین فرش مي نمائید که در این مورد شما زیاد تر ماین هاي ساخت ایران که وقتاً فوقتاً توسط نیرو هاي امارت اسلامي به دست آمده، استفاده مي نمایید باید در این رابطه توجه خاص صورت گیرد.

داکتر عبدالله گفت : از کندهار از طرف شما فرماني مبني بر منع استفاده از ماین صادر شده است آیا آن عملي شده یا خیر ؟

متقي صاحب گفت : بلي عملي شده اینکه شما باور می کنید یا نی به شما ارتباط دارد .

داکتر عبدالله که خیلي مي خواست موجودیت اش را در نیویارك به حساب هیأت امارت اسلامي نشان دهد بار دیگر گفت: من در این اواخر به کار هاي سیاسي در نیویارك مصروف هستم و از مسایل نظامي چند مدتي میگردد که دور مانده ام ولي میدانم که از ماین استفاده زیاد مي نمایم.

متقي صاحب به صحبت هایش ادامه داد و گفت : موضوع دیگر را برایتان خاطر نشان سازم اینکه در قسمت نگاهداشت سرمایه ملي توجه نمایید؛ طور مثال چند روز قبل پل بنگی را از بین بردید ویا قبلاً پل متك منهدم وسرك تونل سالنگ را از بین بردید و این مناطقیست که تحت کنترول شماست و این سرمایه ملي است و ما و شما در آینده نمي توانیم آن را به آساني آباد نمایم . و این بدنامي به شماست راه دیگر به خاطر دفاع جستجو نمایید.

داکتر عبدالله شرمنده و خجالت زده گفت : مصیبت که در افغانستان است خیلي بزرگ است و ما اگر سر به گریبان بگذاریم مي بینیم خیلي چیز ها را از دست میدهیم ولي یك موضوع است که ما بخاطر قطع جنگ این کار را مي نمائیم و کسیکه مسؤل جنگ در جبهه است در آن لحظه او در فکر سرنوشت خود است که چطور خود را نجات بدهد .ما مجبور هستیم بخاطر نجات خویش دست به چنین اعمال بزنیم.

آقاي عبدالله به این افتخار مینماید که سرمایه هاي ملي که به خون این ملت آباد شده است توسط چند فرد معدود که آنها بار دوش جامعه اند و بقاي خویش را در جنگ مي بینند از بین میرود؛ دلیل آن هم شاید اینست که آقاي عبدالله همانندیگر همکارانش براي رسیدن به هدف از هر وسیله بي استفاده کنند . به خاطر اهداف نظامي خود یك تعداد زیاد میراثهاي تاریخي ما را در کابل نیز منهدم ساختند .

متقي صاحب گفت : اکثریت خاك افغانستان تحت کنترول ما قرار دارد و مردم در این مناطق بالاي ما اعتماد دارند و آن هم به این منظور که ما توانستیم که افغانستان را از گروه هاي مختلف گرفته و متحد سازیم و یك حکومت واحد را تشکیل داده ایم. و بسیار کم جاي مانده که ، اگر ما فاتح شویم اشخاصیکه که با شما هستند یا اسیر مي شوند و یا فرار مي نمایند. راه حل پیدا شود که پرستیژ و اتوریته شان حفظ شود ، و بیایند دست از مخالفت بردارند، نه به شکل ائتلافي؛ بلکه یك اعتماد بین ما و شما ایجاد گردد.

داکتر عبدالله گفت: من حرف هاي شما را درك کردم. شما مي گویید مزار ، فاریاب و دیگر جا ها که تحت کنترول شماست یعني مردم آرام و خوش هستند من یك شرط دارم از اشخاص پرسیده نه شده آیا آنها خوش هستند یا نی ولي از نگاه نظامي شما این مناطق را تسخیر نموده اید.

متقي صاحب گفت : من هم نمي گوییم که صد در صد مردم از ماست ؛ زیرا افرادیکه عقیدتاً کمونیست هستند و در دستگاه بدنام و جهنمي خاد کار مي نمودند هیج وقت از ما نمي شوند.

داکتر عبداله گفت : بزرگان ما به این نتیجه نرسیده اند که نظام شما مورد قبول مردم است و تمام مشکلات را هم به همین خاطر قبول کرده ایم. نمي شود که شما با ما یکجا شوید و نمي شود که ما با شما یعني طالبان یکجا شویم.

متقي صاحب گفت : نظر شما در مورد حرف هاي براهیمي چیست ؟

ادامه دارد

د مرکزي سیلو تولیدي فعالیت بیا ...

مختلفو برخونه له نږدې څخه کتنه کړې او ددغې تصدي له رئیس محترم عبدالوصیل سالک څخه یې د سیلو د بیا رغونې او کار او فعالیت په هکله معلومات غوښتي دي او دغه رپوټ یې برابر کړی چې دا دی ستاسې د خبرتیا لپاره یې خپروو.

د سیلو گانو عمومي رئیس د مرکزي سیلو د تصدي په هکله داسې څرگندونې وکړې؟

مرکزي سیلو یوه عام المنفعه ستره امارتي پروژه ده او د یوې امارتي تصدي په بڼه فعالیت کوي. درې مهمې ذخیرې لري او تولیدي ځانگې یې عبارت دي له: الیواتر یا د غنمو ذخیره چې په یوه وخت کې د پنځوس زره ټنو غنمو ظرفیت لري، لمړی لمبر ژرنده او دوهم لمبر ژرنده، او دریمه برخه یې د ډوډۍ، کیک، کلچو، روټ او ناشتا او داسې نورو د اړتیا ور خوراکي موادو د پخولو، لمړی او دوهم لمبر فابریکې دي چې په ۲٤ ساعتونو کې د ۱۱۰ ټنو په ظرفیت سره فعالیت کوي همدا اوس زموږ د لومړي لمبر ژرندې یو سکشن چې ۱۰۰ ټنه تولیدي ظرفیت لري فعال شوی دی. همدارنگه د ډوډۍ پخولو دوهم لمبر فابریکه چې په مجموع کې اووه لینه لري اوس یې موږ درې لینه فعال کړي دي. **او په ۲٤ ساعتونو کې د ۲۷ ټنو ظرفیت لري.**

د پورتنیو عمده ځانگو ترڅنگ ځینې مرستندویې ځانگې هم لرو چې عبارت دي له: آب و بخار، ورکشاپونو او د بریښنا رسولو سیستم او همدا اوس یې عملاً فعالیت شروع شوی دی. په مرکزي سیلو کې ٤۰۰ تنه تولیدي، فني او اداري پرسونل ته د کار زمینې برابرې شوې دي.

البته باید ووایو چې مرکزي سیلو د افغانستان د اسلامي امارت د سوداگرۍ وزارت په هاند او هڅو سره او د اسلامي امارت د مشرتابه د پاملرنې له امله له امارتي بودجې نه په گټه اخیستلو سره یو ځل بیا فعاله او گټې اخیستلو ته تیاره شوې ده او د بیا رغونې کار یې لا دوام لري. باید زیاته کړم په افغانستان کې د نړیوال سره صلیب د ځانگې له مسوولینو سره مو د خبرو اترو په لړ کې له هغوی سره یو قرار داد کړی چې ددې قرار داد په اساس دغه کمیټه له موږ سره د ډوډۍ پخولو او د اولیه موادو د برابرولو په برخه کې مرستې کوي چې په نتیجه کې هره ورځ ۲۵۰۰ پخې ډوډۍ د نوموړې کمیټې له خوا د کابل ښار د لومړۍ ناحیې اړوند پنځو مرکزونو یعنې پامیر سینما، د علي مردان بڼ، بارانه، چنداول او عاشقان او عارفان کې په ازاد ډول د پنځو زرو افغانیو په بدل کې د سهار په پنځه نیمو بجو وړاندې کیږي.

البته موږ له بهرنیو موسسو سره په تماس کې یو او همدا اوس د جرمن اگرواکشن او WFP له موسسو سره په تماس کې یو **هیله ده چې د دوی همکاري په ډیر ژر تر لاسه کړو.**

موږ حاضر یو چې د بهرنیو موسسو د اړتیا وړ پخو موادو غوښتنې او فرمایشات له هغوی سره له تفاهم نه وروسته ومنو څرنگه چې مرکزي سیلو زموږ د ټولو هیوادوالو گډ او مشترک دسترخوان دی نو له دې امله زموږ هیله او غوښتنه د هیواد له ټولو ملي سوداگرو، خصوصي متشبثینو، پانگه والو، انجنیرانو او فني ماهرانو څخه دا ده چې په خپل وس او توان سره له موږ سره ددغې عام المنفعه تصدۍ د بیا رغونې په چارو کې مرسته او همکاري وکړي البته موږ به په خپل ټول توان او قدرت سره هڅه او هاند وکړو تر څو د افغانستان د اسلامي امارت، بهرنیو مرستندویو موسسو او ملي با احساسو کسانو **توجه را جلب کړو او په دې توگه به ددغې سترې تصدۍ ټولې برخې فعالې او گټې اخیستلو ته اماده کړو.**

محمد داود «وردک»

د دریم او څلورمو مکروریانونو تر منځ ...

چارې پیل شوې دي. زموږ خبریال سیمې ته ورغلی او د کار بهیر یې له نږدې نه لیدلی او پر دغه سړک باندې د گلدان جوړونې د کارې گروپ له مسوول محترم انجنیر محمد اسماعیل سره د خبرو اترو په ترڅ کې معلومات غوښتي دغه رپوټ یې برابر کړی چې دا دی خپروو یې.

محترم انجنیر محمد اسماعیل وویل: دغه سړک چې همدا اوس یې د گلدان جوړونې کار روان دی له بنایي څخه پیل او د کابل د هوایي ډگر تر عمومي واټ پورې امتداد لري تقریباً دوه کیلو متره اوږدوالی لري او یو دو طرفه واټ دی. څرنگه چې دغه واټ پخوا په پاخه او اساسي ډول جوړ شوی دی نو په هماغه وخت کې د سړک د دواړو اړخونو تر منځ د گلدان جوړونې او سر سبزۍ په خاطر یو څه سیمه په نظر کې نیول شوې وه خو د ځینو ستونزو له کبله یې عملي چارې نه وې تر سره شوې چې دا دی په دې وروستیو ورځو کې د کابل ښاروالۍ د پاملرنې له امله ساختماني تصدۍ ته دنده ورسپارل شوې ده چې ددغه سړک د گلدان جوړونې چارې پیل او په بریالیتوب سره یې پای ته ورسوي چې په دې توگه مو پر دغه سړک باندې د ۱٤۲۰/۵/۱۸ هـ ق کال نیټه کار پیل او هره ورځ دوام لري تر اوسه پورې دیرش فیصده کار تر سره شوی، کار په بیړه روان دی او انشا الله چې ډیر ژر به په بریالیتوب سره پای ته ورسول شي. باید څرگنده کړم چې ددغه کار په تر سره کیدو سره به چې د کابل ښاروالۍ له عادي بودجې نه په گټې اخیستو سره په مخ روان دی نه یوازې دا چې ددغې سیمې په ښکلا او ښایست کې د زیاتي نیالگیو د ایښودلو له امله ستر بدلون را منځته شي بلکه د سړک له تخریب او ویجاړېدو څخه به هم مخنیوی وشي.

کار ترمیم و تمدید پایپ لاین گاز شبرغان - ...

تاسیسات عام المنفعه جهت بلند بردن سطح اقتصاد کشور اخیراً کار ترمیم و تمدید پایپلین گاز شبرغان - مزار شریف در سه بخش از سوي وزارت معادن و صنایع آغاز و به شدت جریان دارد.

محترم مولوي محمد اعظم علمي معین وزارت معادن و صنایع دیروز از جریان کار پایپلین متذکره باز دید بعمل آورده ضمن آنکه از کار و فعالیت انجنیران و **کارگران پایپلین مذکور قدرداني نمود جهت تسریع بهتر ترمیم و تمدید پایپلین به مسوولین مربوط هدایات لازم ارائه نمود.**

ورکشاپ ارتوپیدي و ...

ورکشاپ مذکور بخاطر فراهم آوری تسهیلات لازم برای مردم ولایت بلخ صحبت نموده از همکاری کمیته سویدن جهت ایجاد ورکشاپ متذکره قدردانی نموه.

در اخیر سرپرست وزارت مخابرات از بخش های مختلف ورکشاپ مذکور بازدید بعمل آورد.

بخش هاي مردانه و زنانه ..

داده ایم که خلاصه آنرا خدمت تان تقدیم مینمایم.

ایشان در آغاز چنین گفتند به تأسی از مشی خیرخواهانه امارت اسلامی افغانستان انستیتوت ملی رادیوگرافی که مانند سایر ادارات امارتی در زمان حکومت ظالمانه رژیم قبلي چور و چپاول گردیده بود دو باره احیا مجدد و فعال گردید. فعلاً این ریاست دارای ۸۱ نفر پرسونل فنی و اداری بشمول دکتوران رادیولوژی بوده روزانه خدمات رادیولوژیك بیش از بیست مریض را اجراء مینماید.

محترم صهیب افزودند: فعلاً ریاست رادیولوژی دارای چهار پایه ماشین فعال و بخش های جداگانه مردانه و زنانه بوده و دیپارتمنت های پانزده شفاخانه دیگر کشر را نیز فعال ساخته و در ریاست های صحت عامه چهار ولایت کشور خدمات رادیولوژی را دو باره احیاء و فعال نموده است. محترم رئیس انستیتوت رادیولوژی در اخیر گفتند: ریاست ما ورکشاپ مجهز و انجنیران مجرب ترمیم ماشین آلات اکسري را دارا بوده و در این عرصه نیز مصروف خدمت بوده همچنان به تربیه پرسونل جدید نیز آماده میباشیم. از مقامات محترم امارتی و مسؤولین داره WHO که در سابق این انستیتوت را کمك و تقویه مینمود آرزومندیم تا قبل از رسیدن سرما در مورد تجهیز مکمل تعمیر این ریاست مساعدت نموده و در رابطه به توسعه بخشیدن خدمات این ریاست با ما همکاری نمایند.

د روسیې او چیچن د ...

بهرنیو خبریالانو خبر ورکړیدی چې د چیچن په پایتخت گروژنې کې د توپونو ډزو غږونه اوریدل کیږي.

په دغو ښیښتو کې لکه څنگه چې د روسیې مقاماتو هم تایید کړیده ددغه هیواد د هوایي پوځ یوه جنگي الوتکه د چیچن پوځونو د هوایي ضد وسلو لخوا ویشتل شویده او راغورځیدلې ده.

روسیه له ۱۹۹٤ میلادي کال نه تر ۱۹۹٦ میلادي کال پورې هم د چیچن له خپلواکي غوښتونکو خلکو سره په جگړه کې وه چې په شرمونکې ډول یې ماتې وخوړه او خپل پوځونه یې له دغه جمهوریت نه وایستل یې له دې چې وکولی شي دغه جمهوریت بیا تر خپل کنترول لاندې راولي.

د پلان وزارت ...

لوړو زده کړو وزارت او د پلان وزارت یو شمیر چارواکي ورسره و ددغه انستیتوت د بیا جوړونې او رغاونې د کار بهیر وکوت او د کار د چټکتیا په خاطر یې مربوطو چارواکو ته لازمي لارښوونې وکړې.

د کانو او صنایعو ...

کورنیو پانگو اچونکو لپاره د پنگې اچولو بهترین شرایط برابر کړي دي او زیار باسي تر څو بهرنې پانگې لپاره لازمې آسانتیاوې برابرې کړي.

پدې ارتباط د اسلامي امارت وروستني مثبت قدم هغه تړون لیك ده چې د اسلامي امارت د کانو او صنایعو وزیر الحاج مولوي احمد جان د سي سي سي یونانې شرکت سره د افغانستان په جنوب لویدیځو برخو کښې د تیلو او گاز د پلټنې په هکله لاس لیك کړی ده.

د تړون لیك له مخې د سي سي سي شرکت به د افغانستان جنوب لویدیزو برخو د تیلو او گاز د ذخایرو د کمپنې لپاره هوایي او نور مطالعات کوي تر څو په ذکر شوي ساحو کې د تیلو او گاز د ذخایرو اندازه معلومه او د هیواد د اقتصادي ستونځو د حل په هکله کمك وکړي. د سي سي سي پلټنې او مطالعات به تر ۱۸ میاشتو پورې دوام لري او په دې پلټنو به اقلاً یو ملیون امریکایي دالره لگښت راځي.

د المپیک د نړیوالې ...

څخه را په دې خوا کله چې د کابل په ورزشي ستودیوم کې بهاري لوبې شروع شوې هره ورځ د اسلامي امارت زیات لوړ رتبه چارواکي د ننداري لپاره نوموړي ستدیوم ته راځي او هغوی موږ زیات تشویقوي او زموږ سره یې هر راز مرستې کړیدي خو موږ نه پوهیږو سره له دې چې اسلامي امارت د ورزش سره پوره علاقه لري او خپلو ورزش کارانو ته یې زیاتې اسانتیاوې برابرې کړیدي بیا هم ددې غوریدلې هیواد د لوبغاړو گډون په نړیوال اولمپیک کې ځنډیږي چې دا د نړیوالو قوانینو څخه ښکاره **سر غړونه او د افغانانو په حق سترگې پټول دي.**

محترم ذکریا د خالد بن ولید د جودو د کلپ استاد وویل: په اوسني وخت کې نه یوازې دا چې پخوانیو لوبو ته بیه زمینه مساعده شوې، ځینې نور فدراسیونونه هم د المپیک د ملي کمیټې لخوا جوړ شوي ددې پر ځای چې نړیوالو موږ تشویق کړي والی زموږ غړیتوب په نړیوالې کمیټې کې ځنډوي چې دا یوه ستره بې انصافي او جفا ده.

د ابراهیم زاده د وزن پورته کولو غړي محترم جاوید حامدي خپل نظر دارنگه څرگند کړ د نړیوالو ټولنو مشران باید ډیر دقیق او سنجیده وي هغوی باید هر څه ووینې او بیا په حقیقت یې ځان پوه کړي او بیا پریکړې وکړي څومره ورزشي فدراسیونونه چې اوس په افغانستان کې شته په هیڅ وخت کې هم نه و نه پوهیږم چې هغوي په کومو معیارو فیصلې کوي؟ او یا دا چې د سیاسي ځواکونو په کنترول کې دي.

د شهید صدیق زرگر د پهلواني کلپ غړي محترم فیض الدین للندري داسې وویل: د افغانستان پهلوانان د تیرو څو کلونو د سوله ایزو شرایطو څخه په استفادې سره دومره تکړه شوي چې د نړۍ د زیاتو هیوادونو پهلوانانو ته چلنج ورکوي نو څنگه کیدلای شي چې دلته لوبې نشته او نړیوال عضویت یې باید واخیستل شي، دا یو ظلم دی نړیوال زموږ له بیا رغیدو او پیاوړتیا څخه ویره لري نو ځکه په هره نړیواله ټولنه کې زموږ پر خلاف پریکړې کوي.

د گڼون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
د خلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

د امریکا او روسیې اتومي تړون او د نړیوالې ټولنې بې حسي

د نړیوالو خبري سرچینو د خبر له مخې ویل کیږي چې تیره ورځ د امریکا متحده ایالاتو او روسیې یو هستوي تړون لاسلیک کړ ددې تړون له مخې به چې د امریکا د اتومي انرژۍ د وزیر بل ریچاردسن او د مسکو د اتومي انرژۍ د وزیر یفگلني او موف تر مینځه لاسلیک شویدې دواړه هیوادونه یو له بل سره د اتومي انرژۍ په برخه کې مرستې کوي او امریکایي متخصصین به د روسیې د ذروي کمپیوترونو سیستم په فعالولو او مادرن کولو کې له روسانو سره همکاري کوي.

همدا راز دواړو خواوو ددې تړون مهم لامل د غیرو مسوولو افرادو لاس ته د اتومي موادو د لویدلو د خطر مخنیوی او د اتومي موادو څارنه او ساتنه بللې ده.

که څه هم په ظاهره خو له تړون څخه دواړو خواو موخه یو له بل سره همکاري بلل شویده خو حقیقت دا دی چې مبصرین دا تړون د امریکا په بري او د روسیې په ماتې تعبیروي امریکا له ډیره وخته راهیسې هر اړخیزې او ډیرې سختې هلې ځلې پیل کړې وې تر څو د روسیې اتومي یا هستوي رازونه تر لاسه کړي، ددې هدف د تر لاسه کولو لپاره یې په لوړه کچه جاسوسان گمارلي وو، مصنوعي سپوږمۍ یې لالهانه کړې وې، کمپیوترونو او نورو عصري وسایلو ته یې دنده ورکړې وه، په ډیره پیمانه لگښت یې هم کړی وو خو په خپل دې هدف کې دومره بریالی شوی نه وو او دومره څه یې لاس ته راوړي نه وو لکه اوس یې چې تر لاسه کړل یا په بل عبارت امریکا په دومره هلو ځلو او لگښتونو دومره څه لاس ته راوړي نه وو لکه ددې پروتوکول یا تړون تر پردې لاندې یې چې تر لاسه کول امریکا غواړي چې د روسیې اتومي تکنالوژي خپل هیواد ته ولیږدوي، خپلې تجربې پرې مشق کوي، خپل اتومي ځواک پرې پیاوړی کوي او د روسانو له تجربو څخه یې هم گټه پورته کړي.

دلته چې کوم شک په امریکا کیږي هغه په روسیه هم کیدلی شي او دا ویل هم کومه سختي نه غواړي چې گوندي روسان په هم همدا نیت لري خو د نړیوالو خبري سرچینو په حواله ویل کیږي چې ددې تړون له مخې به امریکایان نسبت روسانو ته د روسانو په اتومي بټیو کې ډیره لاسوهنه کوي. د روسانو ذروي کمپیوترونه به فعالوي هسته به یې ورته جوړوي او په روسیه کې به ډیر کار هم کوي نو ځکه تري د امریکا د ډیرې گټې احتمال دی.

دلته یو بل ټکي چې باید گوته ورته ونیول شي هغه د امریکا او روسیې ددې تړون په وړاندې د ملگرو ملتونو، نړیوالې ټولنې او په ځانگړې ډول د اسلامي امت بې حسي ده. په کار خو دا وه چې پورتنیو درې واړه لوریو د امریکا او روسیې ددې تړون په وړاندې، د احتجاج او مقاومت لاره خپله کړې وې ځکه ملگري ملتونه او امریکا له ډیره وخته را پدیخوا ناري سورې وهي چې مځکه دې له اتومي وسلو څخه پاکه شي، هیڅ هیواد د اتومي وسلو د جوړولو او خپرولو حق نه لري. خو په خپله امریکا او روسیه یې په ښکاره ډول او خلاف منځ تولیدوي حتی له روسانو سره هم چې په دې اړه له امریکا څخه ډیر وروسته نه دي همکاري کوي او تشویقوي یې کله چې اتوم د بشریت لپاره خطر دی او تولید او خپرول یې په ټوله نړۍ کې بند اعلان شوی حتی د اتومي وسلې د درلودلو په پلمه د عراق د اسلامي هیواد او مسلمان ولس د اور او باروتو په لمبو کې وسوزول شو او نړدې یوه لسیزه کیږي چې بین المللي تعزیر او اقتصادي بندیز پرې لگېدلی دی او اوس هم په ډیره بې رحمانه ډول وژل کیږي نو امریکا او روسیه یې د کوم سالم او انساني منطق له مخې د تولید او انکشاف حق لري؟ که اتومي وسله بنده وي نو دې بندیز ته خو باید چې امریکا او روسیه له هر چا وړاندې غاړه کیښیږدي. او ملگري ملتونه هم باید خپلې فیصلې په ټولې نړۍ یو ډول تطبیق کړي او هغه د یک بام و دو هوا د متل سره سم عمل باید ونکړي.

رښتیا خبره دا ده چې امریکا، روسیه او ملگري ملتونه تل یو طرفه قضاوت کوي او هر څه کې یې چې ډیرې گټې خوندي وي که څه هم سل په سلو کې د بل په زیان وي نو هم تر سره کوي یې حتی یا د قانون نوم ورکړي او یا د ملگرو ملتونو پوښ ور واغوندي او ...

او دا هم ثابته خبره ده چې امریکایي په استعمال کې هم صرفه نه کوي او روسان یې هم ساتلي نه شي چې د جاپان د هیروشیما، ناز اسکي او د روسیې د چرنوبیل پیښې لا د نړیوالو هیرې نه دي.

مبصرین پدې اند دي چې امریکا په دې هڅه کې دي چې په دې سیمه کې اسرائیل تقویه کړي او یهوداتو ته د یو ژاندارم په حیث تبارز ورکړي او اسلامي هیواد ونه پرې وویروي نو له همدې امله هڅه کوي چې د اسرائیلو اتومي پروگرام ته هم وسعت ورکړي.

نو نړیوالې ټولنې ته په کار ده چې د بې حسي او غفلت له خوبه راویښ شي، له ملگرو ملتونو امریکا او روسیې څخه وپوښتي چې تاسې چې د عراق او پاکستان په څیر اسلامي هیوادونو باندې د اتومي وسلو د درلودلو په تور اقتصادي تعذیر لگوئ د سي ټي بي ټي په تړون لاسلیک ته یې هڅول خو لا پریږده چې مجبوروئ؟ په نورو هیوادونو مو ځکه درولې دي نو خپله یې ولې جوړوئ او پراختیا ورکوئ؟

موږ له امریکا پوښتو چې کوکتار به د بشریت لپاره ستر خطر وي که اتوم؟ ښکاره خبره ده چې اتوم د نړۍ د تباهۍ وسیله ده زموږ هدف دا ندې چې گوندې موږ د اتومي وسلو د پراختیا پلوي یو بلکه هدف مو دا دی چې بین المللي فیصلې باید په ټولو هیوادونو باندې یو ډول عملي شي او په دې اړه هیڅ ډول تبعیض او امتیاز ته لاره ورنکړل شي.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Editor: Malyar Kakal
Printed by: Emirat Printing Press